# مطبوعاتي اعلامیه

نیټه: چهارشنبه، د اپریل ۱۲مه، ۲۰۱۷
اړیکه: ۰۷۹۳۹۴۱۹۳۶، anticorruptionnetwork16@gmail.com

## د عدلي او قضایي مرکز د مامورینو وژونکي دی ژر تر ژره ونیول شي او د اعمالو په جزا دی ورسول شي

د عدلي او قضایي مرکز د مامورینو وژل ټول ولس په ځانګړي توګه هغه مدني ټولنې ته چې د اداري فساد پر وړاندی د مبارزې په برخه کې کار کوي پیاوړی ټکان ورکړ.

د کلونو راهیسی هغه بنسټونه او افراد چې د فساد پر وړاندی د مبارزې په برخه کې کار کوي د امانتولی ، روڼتیا او حساب ورکونی د بنسټیز کولو او دودولو لپاره هلی ځلی کړي دي. او تر ډیره بریده دغه هڅی بریالی شوی هم دي. خو دغه ډول پیښې او د ملي یو والي د حکومت کمه پاملرنه دغه هڅی ټکنې کوي خو سمدلاسه موږ په هیڅ کچه دفساد سره مبارزه نشو کولای.

که دغې ځانګړی پیښې ته مناسبه پاملرنه ونشي نو پایلې به یې څه وي:

- ټول هغه اشخاص چې د فساد پر وړاندې په مبارزه کې مهم رول لوبوي په نښه او وژل کیږي به
- د ولس تر منځ د فساد پر وړاندی روحیه به و ځپل شي
- په ښکاره ډول به فاسدې کړنې ترسره کیږي او ساحه به یې پراخه شي
- حکومت او دولتي اداري به د مافیا تابع شي

**حکومت ته زموږ پیغام**

- موږ دغه جرمي کړنه په کلکو ټکو غندو او حکومت څخه غواړو چې مجرمین ونیسي او د محاکمی لپاره یې محکمی ته وسپاري
- دا جرمي عمل دداسي مامورینو پر وړاندی تر سره شوی دی چې د ملي ګټو لپاره یې خپل دروند مسئولیت تر سره کوو
- د شهیدو مامورینو د لار د تعقیب په موخه موږ به په پیاوړي هوډ سره د فساد پر وړاندی مبارزې ته ادامه ورکړو